۲۰۱۸ کال د مې ۱۰

UNAMA | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

د بشري حقونو خدمتونه

**په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو خوندیتوب**

**د رای ورکوونکو د ابتدائي نوم لیکنې د مودې پر مهال د ټاکنو سره اړوند بریدونه او سرغړونې**

**بیاکتنه**

**لنډیز**

د اپریل د ۱۴ راهیسې چې د راتلونکو پارلماني ټاکنو لپاره نوم لیکه پیل شوه، یوناما د ټاکنو په تړاو ټولټال ۲۳ امنیتي پېښې تصدیق کړي د کومو په نتیجه کې ټولټال ۲۷۱ ملکي تلفات (۸۶ مړیني او ۱۸۵ ټپیان) را منځ ته شوي چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو، او ۲۶ تنه ملکیان تښتول شوي. [1] د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۲۲، زیاتره ملکي تلفات هغه وخت را منځ ته شو، چې کله یوه ځانمرګي بریدګر خپل چاودیدونکي توکي په کابل ښار کې د تذکرو د ویش د یو مرکز د باندې د ګڼه ګوڼې په منځ کې وچول، چې له امله یې ۱۹۸ ملکي تلفات (۶۰ مړیني او ۱۳۸ ټپیان) را منځ ته شول.

د اندېښنې خبره دا ده چې شاو خوا ۷۵ سلنه یا د ټاکنو سره د ۲۳ تړلو پېښو له جملې څخه ۱۷ هغه یې په ښوونځیو او جوماتونو کې تر سره شول کوم چې د ټاکنیزو چارو لپاره کارېدل. دوه پېښې د شپږو ملکي کسانو د تښتولو په اړه وې چې په یوه کې یې د یوه ښوونځي په منځ کې د اور لګولو پېښه وه او په یوه ښوونځي کې د چاودېدونکو توکو د چولو پېښه وه، او یوه بله پېښه په جوماتونو او ښوونځیو کې د چاودېدونکو توکو په تړاو وه او په پاته پېښو کې ګواښونه تهدیدونه او ځورونې شاملې وې.

یوناما د هیواد په کچه د دولت ضد عناصرو په هکله هغه راپورونه او همدارنګه هغه ادعا ګانې چې دوي وګړي جریمه کړي او یا د هغو کسانو تذکرې یې ضبط کړي چا چې ځانونه راجستر کړي، تعقیبوي چې په کې هیوادوالو ته ګواښ کېږي چې په راتلونکو ټاکنو کې د رای ورکولو لپاره نوم لیکنه ونه کړي. په ځینو سیمو کې طالبانو د راپور سره سم، د ټاکنو اړوند مسئولین په مرګ او د لاسونو د ګوتو په پرې کولو ګواښلي که چېرې دوي د ټاکنو په اړه خپل کار ته دوام ورکړ، او همدا رنګه یې ښوونکو ته ګواښ کړي چې د هغوي ښوونځي به هدف وګرځول شي که چېرې د نوم لیکنو د موخو لپاره وکارول شي. او له دې امله به ښوونځي وتړل شي.

یوناما د ټاکنو په تړاو د زیاتېدونکي بوږنوونکي تاوتریخوالي او همدارنګه د تښتونو او ګواښونو او د رای ورکوونکو د تهدیدولو او ځورولو په اړه جدي اندېښنه لري چې د ټاکنو د پروسې په دې لومړي پړاو کې ملکیان او ملکي سېمې هدف ګرځوي. یوناما پر دولت ضد عناصرو غږ کوي څو د ټاکنو په تړاو د سایټونو او ملکیانو په وړاندې چې د ټاکنو په پروسه کې ښکیل دي، او د هغو په ګډون چې د رای ورکولو لپاره نومونه لیکي، په سملاسي ډول په نښه کول ودروي، او له هغو ګواښونو او تهدیدونو لاس واخلي چې موخه یې د ټاکنو د پروسې ګډوډول دي. یوناما ټینګار کوي چې ټول افغانان په سیاسي پروسو کې د ګډون حق لري، او د دغه حق د خوندي کولو لپاره، اړینه ده چې د خوځښت، بیان، او د اجتماعاتو د جوړولو او سولهییزو را غونډېدلو حقونو ته وده ورکول شي.

---

[1] په ۲۳ پېښو کې یوناما ۲۷ وژل شوې ښځې او ۷۰ ټپیان ؛ ۱۳ وژل شوي ماشومان او ۲۹ ټپیان مستند کړي.

یوناما د افغانستان له حکومت څخه غواړي چې د ټاکنو د اړوندو سایټو په خاص ډول، ښوونځیو ، روغتیایي مرکزونو او جوماتونو ساتنه وکړي کوم چې د رای ور کوونکو د نوم لیکنې او د رای ورکولو د مرکزونو په حیث ټاکل شوي دي، څو ملکیانو ته د احتمالي زیان د خطرو کچه را ټیټه کړي او یقیني کړي چې اساسي خدمتونو ته لکه د ټولو وګړو لپاره روغتیایي پاملرنه، او د ماشومانو لپاره معارف ته لاسرسي په منفي ډول متاثره نشي. یوناما د ښځې له ټولو ښکیلو خوواو څخه غواړي چې سملاسي تدبیرونه ونیسي څو د هغه تاوتریخوالی او نا امني د بیا پېښېدو مخه ونیسي چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشری د ټاکنو پر مهال تر سترګو شوي.

**شالید**

د ټاکنو په اړوند تاوتریخوالی او ګواښ د رابرسېره کېدونکي میلان چې موخه یې د ملکیانو او ملکي سایټونو په نښه کول دي، هغه بوړنوونکي بڼه څرګندوي کومه چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال تر سترګو شوه. په ۲۰۱۴ کال کې دولت ضد عناصرو ، او زیات او تر کم اندازې ځینو نومااندانو او دولتي امنیتي ځواکونو غوښتل چې د ولسمشریزو ټاکنو دواړه پړاوونه، د ګواښلو او په مستقیم ډول د ملکیانو د په نښه کولو له لارې د ټاکنو په پروسه کې لکه رای ورکوونکي، نوماندان، او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکي او پولیس آفسران چې د رایو د مرکزونو لپاره امنیت برابروي وګواښي.[2] په ۲۰۱۴ کال کې د ښوونځیو او د ښوونځیو د پرسونلو په وړاندې د ټولو تصدیق شویو پېښو نیمایي بریدونه پر هغو ښوونځیو شوي وو، کوم چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د رایو د مرکزونو په حیث کارول شوي وو.[3]

د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو لپاره چې په اکتوبر کې پلان شوي، د ټاکنو زیاتره پروسې (لکه نوم لیکنه، او رای ورکونه) پرېکړه شوې ده چې په ښوونځیو ، کلینیکونو او په عبادت ځایونو کې ترسره شي، کوم چې د امنیت له نظر ډېر زیانمنېدونکي دي چېرې چې د دولت ضد عناصرو له خوا پخوا هم ملکي کسان په کې په نښه شوي دي. د ۷۰۰۰ مرکزونو له جملې څخه د حکومت او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د نوم لیکنې او د رایو د ورکولو د مرکزونو په حیث ټاکل شوي دي، نږدې ٪۶۰ یې ښوونځي دي، او په کې فعالیتونه هغه مهال تر سره کېږي، چې زده کونکي په درسونو بوخت وي. د ټاکنو په مخکښنیو دورو کې دغه مرکزونه یواځې د ټاکنو په ورځ د رای ورکولو د مرکزونو په حیث کارول شوي وو؛ له دغو ورته مرکزونو څخه د هغو فعالیتونو لپاره چې له میاشتو زیات وخت نیسي، لکه د رای ورکوونکو د نوم لیکنې لپاره کار اخیستل ، زیات امنیتي خطرونه په خاص ډول، زیامنېدونکو ټولنو ته متوجه کوي. د د غو سایټونو سربېره، د تذکرو د ویش مرکزونه د ټاکنو په تړاو د بریدونو په وړاندې زیانمنېدونکي ځکه دي، چې تذکره د هغو کسانو لپاره اړینه ده چې د رای ورکولو لپاره جوګه وي او نوم لیکنه کوي.

**د ټاکنو په تړاو د امنیتي پېښو رابرسېره کېدونکي میلانونه**

**د ټاکنو په تړاو بریدونه او تښتونې**

د رای ورکوونکو د نوم لیکنې د مودې د لومړیو دریو اونیو په دننه کې، یوناما په ټولیزه ډول، د ټاکنو په تړاو ټولټال ۲۳ پېښې تایید کړې، چې له دې جملې څخه لس بریدونه دي چې په پایله کې یې ۲۷۱ ملکي تلفات (۸۶ مړیني او ۱۸۶ ټپیان) را منځ ته شول، درې یې د تښتونې پېښې وې د کومو په پایله کې چې ۲۶ ملکي کسان تښتول

---

[2] په ۲۰۱۴ کال کې زیاترو پېښو (٪۹۱) په مستقیمه توګه دا ډول ملکیان په نښه کړي ، (2015)A/HRC/28/48 ، ۱۳ پاراګراف وګورئ ، او همدارنګه په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان د ۲۰۱۴ د کال د نیمایی راپور ۶۲ او ۶۵ مخونه وګورئ.

[3] (2015)A/HRC/28/48 ، ۲۲ پاراګراف وګورئ.

شوي، او په ۱۰ هغو کې ګواښونه، ځورونې او تهدیدونه شامل وو. ښځې او ماشومان د دغو تلفاتو ۵۱ سلنه جوړوي.[4]

د ځانمرګو بریدونو او هدفي/عمدي وژنو د چاودېدونکو تو د کارولو له لارې، د ټاکنو د اړوندو مرکزونو په وړاندې د امنیت د برابرولو د ځانګړي شویو افغان ملي پولیسو د کارکوونکو او د ټاکنو د کارکوونکو په شمول، یوناما د تذکرو د ویش د مرکزونو او رای ورکوونکو د نوم لیکنې د مرکزونو او همدارنګه د ټاکنو د اړوندو پرسونل په وړاندې بریدونه مستند کړي.

یادې پېښې ۱۱ ښوونځي او شپږ جوماتونه چې د ټاکنو په تړاو د فعالیتونو لپاره کارېدل، متاثره کړي چې له امله یې درېو ښوونځیو او یوه جومات ته زیانونه اوښتي. د اپریل پر ۱۷ په یوه پېښه کې، طالبانو د غور ولایت د چغچران په ولسوالی کې یوه ښوونځي ته اور واچاوه چې د رای ورکونې د یوه مرکز په حیث ورڅخه کار اخیستل کېده. او د نوم لیکنې د دوو کارمندانو او دوو پولیسو په شمول یې ځلور ملکیان وتښتول.[5] طالبانو دوه تښتول شوي کسان له سپین ږېرو سره له خبرو وروسته را خوشي کړل. د مې په ۶، د خوست په ښار کې په یوه جومات کې چاودېدونکي توکي د ماسپښین د لمانځه پر مهال وچودل او هغه ملکیان یې هدف وګرځول، چې د نوم لیکنې او عبادت لپاره په جومات کې راغونډ شوي وو، چې په نتیجه کې یې ۱۷ ملکي کسان ووژل شول او ۳۵ نور ټپیان شول. هېڅ یوې ډلې د یادې پېښې مسئولیت نه ده منلی.

د ټاکنو په تړاو تر ټولو مرګونی برید چې تر اوسه دیوناما له خوا مستند شوی د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۲۲، په کابل ښار کې هغه مهال را منځ ته شو، چې کله د کابل ښار په دشت برچي سیمه کې د تذکرو د ویش د مرکز د باندې یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلي چاودېدونکي توکي د ملکي نارینه و، ښځو، او ماشومانو د زیاتې ګڼې ګوڼې په منځ کې وچول، چې له امله یې ۱۹۸ ملکي تلفات (۶۰ مړینې ۱۳۸ ټپیان) را منځ ته شول. په داسې حال کې چې دغه مرکز په کوم ښوونځي او یا جومات کې نه و واقع شوي، د رای ورکونې د ثبت یو مرکز د ځلورو ښوونځیو له جملې څخه په یوه کې واقع شوی و، چې د تذکرو د ویش مرکز ته څېرمه پروت و. د برید پر مهال له راپور سره سم، نږدې ۱۵۰ کسان د مرکز څخه د باندې به انتظار ولاړ و، څو مرکز ته دننه او خپل اسناد تر لاسه کړي. چاودنه د هغو کسانو په منځ کې وشوه کوم چې پر سړک راغونډ شوي وو، او پېښې ته نږدې هټۍ او هغه کسان چې د باندې په انتظار وو، په شدیده توګه متاثره کړل. د قربانیانو او شاهدانو ځرګندونې او له ساحې څخه اخیستل شوي انځورونه بوږنوونکې منظرې وړاندې کوي چېرې چې ځمکه په جسدونو او د جسدونو په ټوټو لړلې وه. چاودنې همدا رنګه یو شمېر نقلیه وسیلې او څېرمو ودانیو ته زیان واړاوه او د کورونو کړکۍ یې څېرمو کورونو ته والوزولې. داعش د خپل نشراتي ارګان اعماق له لارې د پېښې مسئولیت ومانه او د ټاکنو د یوه مرکز د په نښه کولو تاکید یې وکړ.[6]

په بله پېښه کې، د مې په ۳، د جوزجان ولایت په مراد یانو ولسوالي کې د طالبانو تش په نامه ولسوال او نورو غړو د ټولټاکنو د کمیسیون ۲۰ غړي وتښتول او ګواښ یې وکړ که چېرې دوی د ټاکنو کار ته دوام ورکړي او یا په راتلونکي کې د ټاکنو په چارو کې ښکیل شي نو د مرګ سزا به ورکړل شي. د مې له ۸ راهیسې، د هغو له

---

[4] په ۲۳ پېښیو کې نوناما ۲۷ وژل شوي ښځې او ۷۰ ټپیان ، ۱۳ وژل شوي ماشومان او ۲۹ ټپیان مستند کړي.

[5] طالبانو د په خپله انګلیسي ویبپاڼه د دغه برید مسئولیت ومانه چې په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://alemarah-english.com/?p=27793، په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د مې په ۲ ورته لاسرسي شوی.

[6] داعش د پېښې مسئولیت ومانه چې په لاندې پته د لاسرسي وړه ده: https://ent.siteintelgroup.com/Statements/is-khorasan-province-claims-100-casualties-in-suicide-bombing-at-voter-registration-center-in-kabul.html، وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د مې په ۱۲ ورته لاسرسی شوی.

جملې څخه ۱۷ هغه یې د ټولنې د بانفوذه غړو له خوا د ضمانت د ورکولو وروسته خوشې شوي خو درې هغه یې لا هم د طالبانو په توقیف کې دي.

**د ګواښونو، ځورونې او تهدید عملونه**

د ټاکنو په تړاو د ۲۳ امنیتي پېښو له جملې څخه چې یوناما تایید کړي، لس یې تهدیدونه، ځورونې او ګواښونه وو، چې له امله یې مرګ ژوبله او تښتونې ندي را منځ شوې. د تذکرو د ضبطولو د ادعاو او یا پر تذکره د نوم لیکنې د ستیکر درلودلو په خاطر د جریمو د وضع کولو په شمول، په لسو کې د ټاکنو د اړوندو کارکوونکو، ښوونکو او احتمالي رای ورکوونکو په وړاندې د دولت ضد عناصرو له خوا تهدیدونه، ځورونې او ګواښونه شامل دي.[7]

د اپریل په ۲۷، د سمنګانو ولایت د دره صوف پایین په ولسوالي کې د جمعې د لمانځه پر مهال، د طالبانو تش په نامه ولسوال ګواښنه وکړه چې دی به د ټولنې د هر هغه کس ګوتې پرې کړې چې د ټاکنو کارت ولري او یا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره کار وکړي او په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې ګډون وکړي.

د ټولټاکنو په تړاو د ښوونځي ښوونکي هم د ګواښونو، تهدید او ځورنې سره مخامخ دي. د می په ۲، د پکتیکا ولایت د شرنې په ولسوالي کې طالبانو د ښوونځیو ښوونکو ته په ولسوالي کې اخطار ورکړ چې دوي به هغه ښوونځي که چېرې و نه تړل شي په نښه کړي، چې د ټاکنو د چارو د پرمخ بیولو لپاره ترې کار واخیستل شي. د یادې ګواښنې په نتیجه ټول اته واړه شوونځي وتړل شول. په داسې حال کې چې یوې عالي لیسې پرېکړه کړې وه چې پرانیستې پاتې شي، خو والدین حاضر نه شو چې د زیات خطر له امله خپل ماشومان ښوونځي ته ولیږي.

په ورته ډول د اپریل په ۲۳، د لغمان ولایت په علینګار ولسوالي کې طالبانو د سیمې څخه په سلګونو قومي مشرانو باندې غږ وکړ څو د ټاکنو پروسه وغندي او هغو ته یې وویل، چې خپلې تذکرې د ټاکنو د خپلوک کمیسیون سره ثبتې نه کړې او ګواښ یې وکړ چې په راتلونکی وخت کې به طالبان د تذکرو کنترول وکړي او که چېرې چا خپله تذکره د ټاکنو لپاره ثبته کړې وه، هغوي له جدي پایلو سره مخ شي، د ټولنې غړو خپله نارضایتي اعلان کړه او یادونه یې وکړه چې دا یوه ملي پروسه ده او د طالبانو څخه یې غوښتنه وکړه چې په دې اړه مزاحمت ونه کړي.

**پر بشري حقونو د ټاکنو سره په تړاو د امنیتي پېښو اغېزې**

د ټاکنو په تړاو د بریدونو له امله زیاتېدونکي نا امني او د رای ورکونو د تهدیدونو او ځورونې پېښې د ټولو افغانانو د یو شمیر مهمو بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو د کارولو پر وړتیا مستقیمه او سملاسي اغیزه لري. د نړیوال بشري حقونو قانون حکم کوي چې هر وګړی له توپیره پرته او بې له کومو بې مورده محدودیتونو، حق لري چې په عامه چارو کې برخه واخلي، رایه ورکړي، او د دولتي دندې لپاره وټاکل شي. پر دې سربېره، د یوې موثرې ټاکنیزې پروسې د سرته رسولو لپاره، تر ټولو مهمه د ټولو اشخاصو - رای ورکوونکو، نوماندانو، او د هغوی ملاتړو، او د ټاکنو اړوندو کارکوونکو - هغه حق دی چې د ټاکنو په ټولو پړاوونو کې، د رای ورکوونکو او د نوماندانو د نوم لیکنې څخه نیولی بیا تر رای اچولو او په پای د ټاکنو څخه وروسته مودې لپاره، له ډار او ګواښ څخه خوندي وي.

د تذکرو د ویش د مرکزونو او د رای ورکوونکو د نوم لیکنو د مرکزونو په وړاندې وروستي بریدونه او ورسره مل، د رای ورکولو لپاره د نوم لیکنې په وړاندې ګواښونو او ځورونې، د هغو ټولو افغانانو پر وړتیا چې غوښتل یې په خوندي او ازاده توګه دغو مرکزونو ته لاسرسی پیدا کړي په منفي ډول اغیزه درلوده، کوم چې د ټاکنو په

---

[7] د ګواښونو ، ځورونې او تهدید په لسو پېښو کې د تښتونې پورته یاده شوې قضیه نه ده شامله.

پروسه کې د برخې اخیستلو د وړتیا لپاره یو وړاندې شرط دی. نا امني د خوځښت ازادي محدوده کړې کومه چې موجوده کلتوري محدودیتونه چې له امله یې زیاتره وخت ښځې نه شي کولای خپل سیاسي حقونه وکاروي، لا تشدیدوي. او همدارنګه هغه بریدونه چې شیعه لږکي مسلمانان په نښه کوي، ښایي د هغوي د راي ورکولو هغه وړتیا او لیوالتیا اغیزمنه کړي، چې دا به په هغو کې له خپلو حقونو څخه د بې برخې کېدو شته احساس لا پیاوړی کړي

د دې شونتیا په نظر کې نیولو سره چې ښايي له ټاکنو سره تړلي بریدونه به د راتلونکو میاشتو په ترڅ کې، ممکن آن د ټولټاکنو تر ورځې پورې دوام ومومي، یوناما د بیان د آزادیو، د ټولنو، او د سوله ییزو تجمعاتو، په وړاندې د اوږدمهالو اغېزو په اړه اندېښمنه ده. د ټاکنو د فعالیتونو پر وړاندې زیاتېدونکې نا امني، ممکن نوماندان او د هغوي د ملاتړو توان چې په کمپاینونو او سیاسي لاریونونو، یا سوله ییزو اعتراضونو او د ټاکنو په تړاو په نورو اړوندو غونډو کې برخه واخلي، کمزوری کړي. دا همدارنګه د هیواد په سیاست او دولتي چارو کې د ښځو د حقونو د کارولو په وړاندې اضافي خنډونه را منځ ته کوي.

د دې سربېره، یوناما معارف ته د ماشومانو د لاسرسي په هکله د ټاکنو په تړاو د بریدونو د مستقیمو او غیر مستقیمو اغیزو په اړه اندېښمنه ده. هغه ښوونځي چې د رای ورکوونکو د نوم لیکنې او رای اچونې د مرکزونو په ډول ټاکل شوي، د برید له زیات خطر سره مخ دي، چې ښايي د ښوونځیو تعمیرونو ته د زیان د اوښتو له امله، د یادو ښوونځیو د بندېدو یا د ښووني د منظمو روزنیزو خدمتونو د اختلال لامل شي. یوناما همدارنګه یادونه کوي چې بریدونه وار د مخه د ماشومانو د والدینو پر هغه لیوالتیا چې خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي ناوړه اغیزه پرې ایښې ده، او په دې کې نجونې په خاص ډول زیاتې متاثرې شوې دي.

**پایله**

یوناما د رای ورکوونکو د نوم لیکنې د مودې له پیل راهیسې د ټولټاکنو سره د تړلي تاوتریخوالی د کچې د زیاتوالی له امله اندېښمنه ده. دغه دفتر د ټاکنو په تړاو د ټولو مرکزونو او هغو انفرادي کسانو په نښه کول چې د ټاکنو په پروسو کې ښکیل دي او په کلکو ټکو غندي کوم چې تر نړیوال قانون لاندې د ملکي شیانو او کسانو عمدي په نښه کولو د ممنوعیت له اصل څخه سرغړاوی ګڼل کېږي. د تښتونو او ځوروني پېښې، له ګواښونو او تهدیدونو سره یو ځای، کومې چې له ټولټاکنې سره تړلې دي، ښووني ته د ماشومانو د لاسرسي په شمول، له اساسي بشري حقونو او ازادیو څخه ګټه اخیستل په جدي توګه له خنډ سره مخ کوي. یوناما له زیاتې اندېښنې سره یادونه کوي، چې دغه ډول پېښې ښايي د ټولټاکنې د پروسې په جریان کې ورځ تر بلې زیاتې شي، او د ښځې پر ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي څو ملکیانو او د ملکي ځایونو ته د هر ډول زیان د اوښتو د مخنیوي لپاره سملاسي تدبیرونه ونیسي، څو د هغو تاوتریخوالو د بیا پېښېدو تکرار مخه ونیسي کوم چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال تر سترګو شول.

**سپارښتنې**

**دولت ضد عناصر**

دولت ضد عناصر باید د تذکرو د ویش د مرکزونو ، د رای ورکوونکو د نوم لیکنو او رای اچونو د مرکزونو په شمول، د ټولټاکنو په تړاو د مرکزونو په وړاندې سمدلاسه بریدونه ودروي. ځانګړی پاملرنه باید دې ته واړول شي چې ښوونځي، روغتیایي مرکزونه او عبادت ځایونه کوم چې د ټاکنو د پروسې پر مهال کارول کېږي، له بریدونو څخه خوندي وساتل شي او دا چې افغان وګړي پرته له کوم اختلال د ښووني، روغتیا له خپلو بنسټیزو حقونو څخه برخمن پاته شي.

دولت ضد عناصرو باید په سملاسي توګه د امنیتي چارو کارکوونکو او چارواکو په شمول چې د ټاکنو د مرکزونو مسئولیت ور په غاړه ده، او همدارانګه د هغو وګړو په وړاندې چې په سیاسي پروسو کې د ګډون خپل حق کاروي، د ټولټاکنو د کارکوونکو پر وړاندې، بریدونه، تهدیدونه، ځورونې او د ګواښنې نور عملونه ودروي. دولت ضد عناصرو ته یادونه کېږي چې ټول افغانان حق لري د ۲۰۱۸ کال په پارلماني ټاکنو کې له ډار او ګواښ څخه پرته، برخه واخلي

**د افغانستان حکومت**

د افغانستان حکومت، په ځانګړی ډول، افغان ملي امنیتي ځواکونه او د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید یقیني کړي چې مناسب امنیتی تدبیرونه یې په لاره اچولي، څو د ټاکنو په تړاو د ټاکنو په ټوله پروسه کې د مرکزونو او پرسونل خوندیتوب یقیني کړي.

د رای ورکوونکو د نوم لیکنې او رای اچونې د مرکزونو په حیث د ښوونځیو د پراخې کارونې ، او تر کمې اندازې د روغتیایي مرکزونو او جوماتونو د کارولو په نظر کې نیولو سره حکومت باید د ملکي کسانو د احتمالي زیان د خطر د کچې د راکمولو په موخه سملاسي تدبیرونه ونیسي، او یقیني کړي چې اساسي خدمتونو ته لاسرسی مختل نه شي. د منفي اثراتو د راکمولو تدبیرونه چې ښایي د هغو مرکزونو چې د زیات خطر سره مخ ارزول شوي، په ځانګړی توګه هغه مرکزونه چې د روغتیایي مرکزونو په دننه کې واقع شوي، چې په هغو هغې خېمې هم شاملې دي چې د ودانیو څخه د باندې لګول شوي دي، د ترتیباتو بیا کتنه رانغاړي.

حکومت باید د هغو افغانانو اندېښنو ته چې په نا امنو سیمو کې اوسېږي، او د ټولټاکنو په پروسو کې د ګډون له امله له ګواښ او تهدید سره مخ دي، د رسیدګي لپاره تدبیرونه ونیسي.